the pittsburgh promise

# حقيقتپاڼه




## زه په شرايطو د پوره کېدو لپاره څه بايد وکړم؟

**د پيټسبرګ د سکالرشيب د وعدې د ترلاسه کولو لپاره، زده کوونکي بايد:**

1. په 2028 کې، يا مخکې له عالي لېسې څخه فارغ شوي وي
2. په دوامدار ډول يې، لږ تر لږه له 9م ټولګي څخه د پيټسبرګ په عامه ښوونځيو کې، يا داسې ښوونځي کې بايد زده کړې کړېې وي چې د پيټسبرګ د عامه ښوونځيو په واسطه دربست شوی وي
3. بايد په دوامدار ډول، لږ تر لږه له 9م ټوګي راهيسي په پيټسبرګ ښار (يا ويکينزبرګ) ښار کې اوسېدلی وي
4. بايد د پيټسبرګ له عامه ښوونځيو څخه په اوسط ډول لږ تر لږه په مجموعي بې وزنه 2.50 نمرو سره فارغ وي او د حاضرۍ فيصدي يې 90% يا لوړه وي.

هغه زده کوونکي چې د ژمنې يا تعهد نور شرايط يې پوره کړي وي، اما په مجموي، بې وزنه نمرو سره فارغ وي
چې د نمرو اوسط يې د 2.0 او 2.49 ترمنځ وي کولای شي د
د ژمنې د پراختيا د پروګرام لپاره درخواست وکړي. د ژمنې يا تعهد د مالي تمويل مرسته د پروګرام او هغو کسانو لپاره تاديه کوي چې يو کلن نصاب يې په برياليتوب سره بشپړ کړی وي او د ژمنې يا تعهد لپاره په بشپړ ډول په شرايطو پوره وي نور معلومات دلته ولولئ
.pittsburghpromise.org/the-scholarship/eligibility

## د څه شي لپاره د ژمنې مالي تمويل کاربدلی شي؟

**د 2018 د ټولګيو لپاره او ها خوا:**

د ژمنې سکالرشيپ مرسته کوي ترڅو د حاضرۍ بشپړ لګښت تر پوښښ لاندې ونيسئ. په دې کې داخله، فيسونه، اطاقونه، تخته، او کتابونه شامليږي.

## زه به د کالج د سکالرشيپ لپاره څومره پيسې ترلاسه کړم؟

**هغه په شرايطو پوره زده کوونکي چې د 9م ټولګي له لومړۍ ورځې په دوامدار ډول رغلي دي په کال کې به تر 5,000$ (حد اکثر 20,000$) سکالرشيپ لپاره په شرايطو پوره شي چې د له عالي لېسې له فراغت ورسته تر پنځو کلونو پورې به استفاده څنې کيږي. لږ تر لږه 1,000$ سکالرشيپ به په کلني ډول په شرايطو پوره زده کوونکو ته ورکول کيږي**

دغه ژمنه د وروستي ډالر سکالرشيپ دی. دا په دې مانا چې په کال کې به تر 5,000$ په کال کې (حد اکثر 20,000$) د حکومت له مرستې وروسته د زده کوونکي پاتې بيلانس ته محاسبه کيږي (لکله PHEAA، Pell، او FSEOG)، نورې مرستې او سکالرشيپونه لکه د داخلې تخفيف د ثانوي زده کړو د هرو پنځو کلونو لپاره کم شوی دی.

که چېرې زده کوونکی چې حد اکثر تاديه يې 5,000$ وي، د خپلو ټولو مصارفو د تامين په موخه 3,000$ ته اړتيا ولري، موږ 3,000$ ورته چمتو کوو. که چېرې کوم زده کوونکی له ټولو مرستو وروسته هېڅ مصرف ونه لري او سکالرشيب ورته ځانګړی شوی وي، هغوی به د ژمنې له پروګرام څخه حد اقل 1,000$
ترلاسه کړي چې هغوی به يې د خپلې غوښتنې مطابق د ښوونځي اړوند خپلو مصارفو لپاره لګوي.

## چېرې کولای شم د ژمنې له سکالرشیپ څخه استفاده وکړم؟

زده کوونکي کولای شي د هغو پروګرامونو په شمول چې په آنلاین ډول د دغو ښوونځیو له خوا وړاندې کېږي، په پنسلوانیا کې هر تایید شوي کالج، پوهنتون، سوادګریز یا تخنیکي ښوونځي ته لاړ شي. دغه پروګرامونه باید د فدرال د Pell مرستې لپاره په شرایطو پوره وي. د ژمنې پروګرام اړونده مرستې یوازې د ثانوي زده کړو لپاره دي، او د فراغت کچې د پروګرامونو لپاره نه دي. د ژمنې پروګرام یوازې آنلاین ښوونځیو ته مالي مرستې نه چمتو کوي ( چې په پنسلوانیا کې د دایمي انستیټیوټ لرونکي نه دي).

## زه باید له دغه سکالرشیپ څخه د څومره مودې لپاره استفاده وکړم؟

د پیپسبرګ د ژمنې پروګرام له عالي لېسې څخه له فراغت وروسته په سملاسي توګه په پنځو کلونو کې وکارول شي.

## که چېرې زه په سنتي 4.0 مقیاس کې په پام کې ونه نیول شم څه به کېږي؟

د پیټسبرګ عامه ښوونځي مسئول دي ترڅو د هر زده کوونکي د اکادمیکو معلوماتو په اړه د ژمنې پروګرام ته راپور ورکړي. ستاسو لارښود یا د لېږد مشاور به ستاسو له ښوونځي سره په ګډه کار کوي ترڅو ستاسو اکادمیک پرمختګ په ګوته کړي او د ژمنې پروګرام لپاره په شرایطو د پوره کېدو لپاره یې وژباړي.

## که چېرې زما په نوملیکنه، اوسط نمرو، حاضرۍ، یا نورو مواردو کې داسې ستونزه رامنځ ته شي چې زما له کنټرول څخه د باندې شرایطو له امله زما په ورتیاوو باندې اغېز وکړي، څه به کېږي؟

د هغو زده کوونکو لپاره چې داسې جدي تجربې یا ستونزې لري چې د سکالرشیپ لپاره په شرایطو پوره کېدو باندې د هغوی پر وړتیاوو اغېز کوي، د شفقت او مهربانۍ د غوښتنې پروسه شتون لري. غوښتنې د ژمنې پروګرام د زده کوونکو د پورټال له لارې سپارل کېږي. غوښتنې د 504 ،IEP او نورو هغو شرایطو په اساس په پام کې نیول کېږي چې د زده کوونکي له کنټرول څخه د باندې دي. غوښتنې کېدی شي په داسې حال کې وسپارل شي کله چې په ښوونځي یا عالي لېسه کې یاست.

## کله چې پیل وکړم، زه څنګه د ژمنې پروګرام لپاره په شرایطو پوره پاتې کېدلی شم متوسطه یا د ثانوي زده کړو ښوونځي؟

زده کوونکي باید په اوسط ډول 2.0 نمرې ولري او باید د هغه ښوونځي د شرحې مطابق چې ورځي، بشپړ وخت کورس ته تللی وي، چې معمولاً 12–16 کرېډېټه کېږي. د بشپړې ورځې زده کړو د وضاحت په هکله له ښوونځي سره خبرې وکړئ. اکادمیک پرمختګ به د هر ښوونیز کال په پای کې د ژمنې پروګرام له خوا ارزول کېږي. نیمه ورځ تګ د ژمنې د پروګرام له خوا نه تمویلیږي. یادونه: په *ډېری 4* کلنو کالجونو کې، زده کوونکی *باید په هر سمستر کې باید 15* کرېډېټه پوره *کړي ترڅو وکولای شي په 4* کلنونو کې فارغ شي.

زده کوونکي باید هر کال په داسې حال کې چې ثانوي یا متوسطه زده کړې کوي، مخکې له دې چې د ژمنې پروګرام طی مراحل شي، FAFSA (د فدرال زده کوونکو د مرستې لپاره وړیا درخواست) ډک کړي.

## زه څنګه باید درخواست وکړم؟

د عالي لېسې د وروستي کال په جریان کې، د ژمنې پروګرام د زده کوونکو پورټال ته د ننه شئ ترڅو FERPA ډکه کړئ او د خپل ښوونځي لېوالتیا (لېوالتیاوې) درج کړئ.

## زما ښوونځی د ژمنې د پروګرام سکالرشیپ څنګه ترلاسه کوي؟

زده کوونکي د هغه ښوونځي نوم چې غواړي ورشي د ژمنې پروګرام د زده کوونکو په پورټال کې درج کوي او د ژمنې پروګرام یې له هغه ځایه ترلاسه کوي. ښوونځي د پیټسبرګ د ژمنې پروګرام ته د مالي تمویل په موخه اېنوایس استوي. چکونه په مستقیم ډول ښوونځي ته استول کېږي.

## نورې پوښتنې؟ له موږ سره اړیکه ونیسئ.


412-281-7605 (تلفون)
412-281-7638 (فکس)
info@pittsburghpromise.org (برېښنالیک)
Centre Avenue, Suite 204, Pittsburgh, PA 15219 1901 (پستي پته)


هغه لېست

## چې د ژمنې پروګرام لپاره په شرایطو د پوره عالي لېسو لپاره چمتو شوی

- د ښار چارټر عالي لېسه
- د چاپېریال ساتنې چارټر عالي لېسه
- د پاسپورت اکادمۍ چارټر ښوونځی
- پېټسبرګ آلډرډایس
- پېټسبرګ براشییر
- پېټسبرګ CAPA
- پېټسبرګ کاریک
- پېټسبرګ میلیونېس (UPrep)
- پېټسبرګ اوباما
- د پېټسبرګ آنلاین اکادمي y*
- پېټسبرګ پېري
- د پېټسبرګ Sci-Tech اکادمي
- پېټسبرګ وېسټېنګ هاوس
- د ښار چارټر ښوونځي اکادمي
- د اوربان پټوې چارټر عالي لېسه

* *د پېټسبرګ آنلاین اکادمي یوازنی داسې آنلاین/سایبر عالي ښوونځی دی چې د ژمنې پروګرام لپاره یې زده کوونکي په شرایطو پوره دي.*

the pittsburgh promise

د پیټسبرګ د ژمنې پروګرام په اړه ډېر څه زده کړئ:

www.pittsburghpromise.org